الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ، وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ». «نيکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه دي چې ستا په زړه کې ټکه پيدا کړي او بد ګڼې چې خلک پرې خبر شي

له نواس بن سمعان الأنصاري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د نیکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وکړه، هغه وفرمایل: «الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ، وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ». «نيکي ښه اخلاق دي، او ګناه هغه څه دي چې ستا په زړه کې ټکه پيدا کړي او بد ګڼې چې خلک پرې خبر شي».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د نیکۍ او ګناه په اړه پوښتنه وشوه، نو هغه وفرمایل: د نېکۍ تر ټولو ستر صفت له تقوا سره ښه اخلاق، د خلکو د ضرر زغمل، لږ غصه کېدل، ورين مخ، ښه ويناء، خپلوي پالنه، پيروي، مهرباني، نيکي کول، ښه سلوک او ښه ملګرتيا ده. او ګناه هغه ده چې په زړه کې دې ټکه او شکونه پيدا کړي او په اړه يې زړه نازړه شي او سينه دې ځای ورنکړي، او په زړه کې ترې شک او وېره پيدا شي ځکه چې ګناه ده، او نه غواړې ښکاره يې کړې ځکه چې د ښو خلکو له انده ناوړه عمل دی، ځکه نفس په طبيعي توګه غواړي چې خلک يې له ښو کړنو خبر شي، نو کله چې دې نه غوښتل خلک دې پر ځينو کړنو خبر شي نو هغه ګناه ده او خبر پکې نشته.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4308